مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۱۶

# د افغانستان بایوگرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (دوه اتیایمه برخه)

## دستګیر پنجشیری

د ملک داد محمد زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په پنجشیر کې زېږېدلی دئ. په هرات کې د خپلو لومړنیو زده کړو له بشپړولو وروسته د کابل په دارالمعلمینو کې شامل سو. د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه ئې لیسانس تر لاسه کړ. د انیس د تحریر د هیئت غړی. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۵۹ز کال پورې د انیس د څېړني او مطالعې مدیر. د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د کتابتونونو مرستیال مدیر او له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د کابل په دارالمعلمینو کې د ادبیاتو ښوونکی. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د ارتباطاتو مدیر. په ۱۹۶۳ز کال کې په راډیو افغانستان کې د سانسور مدیر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د کلتور په ریاست کې د فولکلور مدیر. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د لاسي خطونو د نسخو مدیر. په ۱۹۶۸ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د ادبي جوایزو مدیر. د ولسي جرګې ټاکنو ته ئې ځان کاندید کړ خو په دې تور ونیول سو چې سیاسي اله ګوله ئې رامنځته کوله. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۲ز کال پورې زنداني سو. د خلق د ګوند یو له بنسټ ایښودونکو څخه دئ. د ‹‹جنبش کارګري›› د فرکسیون مشر. د غوایي له پاڅون وروسته د ۱۹۷۸ز کال د مې له میاشتي د آګست تر میاشتي پورې د معارف وزیر سو. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې د ټولګټو/ فواید عامې وزیر سو. د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر په ۲۷ د لنډې مودې لپاره ونیول سو. د حفیظ الله امین له پرځېدلو وروسته د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ د میاشتي له ۱۱ نېټي وروسته د سیاسي بیرو غړی. د مرکزي کمېټي او د انقلابي شورى غړی. د لیکوالانو او شاعرانو د اتحادیې رئیس. ویل کېږي چې خپل مستقل دریځ ئې ساتلی دئ. د ۱۹۸۵ز کال د نوامبر په میاشت کې ورڅخه وغوښتل سول چې د صحي معاذیرو له کبله دې د ګوند د مرکزي کمېټي او د سیاسي بیرو له غړیتوب څخه لاس واخلي.

## غلام حیدر پنجشیري

د شاه محمود پر مهال د ‹‹وطن›› د ډلې غړی. د دولتي انحصاراتو رئیس. له سیاسي اړخه فعال. د ۱۹۷۸ز کال په اوړدو کې د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال زنداني او بیا ووژل سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## غلام صفدر پنجشیري

د کاپیسا د ولایت له پنجشیر ځخه دئ. په مصر او د امریکا په متحده ایالاتو کې ئې تحصیلات کړي دي. د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد. د عربي ادبیاتو د دیپارتمنت رئیس. د تره کي د واکمنۍ پر مهال له کاره برطرف او په کور کي تر نظارت لاندې کښېنول سو. پاکستان ته وتښتېد او اوس په سعودي عربستان کي ژوند کوي. د مکي د ښار د رابطـهٔ عالمیه اسلامي په اداري کي په کار مقرر سوی دئ. مؤلف. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## غلام سخي پنجشیري

د کاپیسا د ولایت د پنجشیر له ولسوالۍ ځخه د شیر میرزا زوی. په مصر او د اندیانا په پوهنتون کي ئې تحصیلات کړي دي او همدلته ئې په ۱۹۶۷ز کال کي په عامه اداره کي روزنه ولیدله. د کابل پوهنتون په اداري چارو کي اسیستانت، مرستیال رئیس او رئیس.

**جنرال غلام رسول نورستاني** : وګورئ : پرماچ

**عبدالهادي داوي** : وګورئ : پریشان

## محمد اکبر پرواني

په ۱۹۱۱ز کال کي په کندهار کي زېږېدلی دئ. د حبیبیې په لیسې کي ئې زده کړې کړي دي. په ۱۹۲۵ز کال کي ملکي مأمور سو. په ۱۹۲۷ز کال کي د باندنیو چارو په وزارت کي مقرر سو. په ۱۹۲۷ز کال کي په انقرې کي په افغان سفارت کي د سکرتر په توګه وګومارل سو. په ۱۹۳۰ز کال کي د کود یا شفر کاتب او په ۱۹۳۵ز کال کي د باندنیو چارو په وزارت کي د ختیځو چارو د ډیسک مأمور. په ۱۹۳۶ز کال کي په کندهار کي او په ۱۹۳۸ز کال کي په هرات کي د باندنۍ رابطي افسر. په ۱۹۳۹ز کال کي د باندنیو چارو په وزارت کي د سیاسي څانګي ددریمي برخي سرپرست مدیر او د سیاسي څانګي د څلورمي برخي مدیر. په ۱۹۴۰ز کال کي په کراچۍ کي افغان قنسل، او په ۱۹۴۲ز کال کي په پېښور کي د افغان سوداګرۍ استازی. په ۱۹۴۷ز کال کي په پلخمري کي کمشنر، او په ۱۹۴۹ز کال کي د افغانستان د بورې او پطرولیم د کمپنۍ مرستیال رئیس. په ۱۹۵۱ز کال کي په کویټي کي افغان قنسل. په ۱۹۵۶ز کال کي د ترانسپورت رئیس. په ۱۹۶۴ز کال کي د هوټلونو د سهامي شرکت اجرائیوي رئیس. پرواني له ایران سره د سرحدي نښو د بیا کتني او اصلاح او د سرحدي ستونزو د حل په کمیسیون کي برخه درلودله. تر ډېرې مودې پورې بې کاره وو تر څو چي ولسمشر تره کي د ۱۹۷۸ز کال د جولای په میاشت کي په سعودي عربستان کي د افغانستان د سفیر په توګه وټاکـهٔ. د ۱۹۷۹ز کال د ډسمبر د میاشتي په پینځمي نېټي ئې خپل کار پرېښود او د ۱۹۸۵ز کال په پای کي په سعودي عربستان کي وفات سو.

## محمد اکرم پرونتا

د امیر حبیب الله خان د کتابدار محمد ابراهیم زوی په ۱۹۰۷ز کال کي زېږېدلی دئ. لومړۍ زده کړې کي ئې په کور او د حبیبیې په ښوونځي کي کړي دي. په ۱۹۲۱ز کال کي جرمني ته لوړو د زده کړو لپاره لاړ. په ۱۹۲۹ز کال کي د نجات د لیسي ښوونکی. په ۱۹۳۰ز کال کي یو ځل بیا جرمني ته لاړ او د انجنیرۍ دیپلوم ئې تر لاسه کړ. په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۱۹۴۰ز کال کې افغانستان ته راستون سو. د ماهیپر او د وریښمین تنګي له لارې د کابل – جلال آباد د لویې لارې د ډیزاین او د جوړولو مسؤول وو. په ۱۹۵۰ز کال کې ئې د ټولګټو په وزارت کې د ډایرکټر جنرال او مرستیال وزیر په توګه کار وکړ او په ۱۹۵۱ز کال کې ددې وزارت وزیر سو. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳ز کال پورې بې کاره وو. په ۱۹۶۳ز کال کې د اندونیزیا سفیر. د ۱۹۶۶ز کال د جولای د میاشتې په ۱۶ د پولند د سفیر په توګه وګومارل سو. د سنا غړی. په ۱۹۷۸ز کال کې (له خپل کشر ورور شریف سره یو ځای) ونیول سو، زنداني او بیا ترې تم سو. وادهٔ ئې کړی وو- مېرمن ئې سره له ځلورو بچیانو د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## پوهاند محمد صالح پرونتا

(د محمد اکرم پرونتا ورور) د سرکاتب محمد ابراهیم زوی په ۱۹۱۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال په لیسې کې ئې زده کړې وکړې خو له فراغت مخکې زنداني سو. د (خواطر قهرمان) کتاب ئې په ۱۹۳۳ز کال کې لیکلی دئ او یو ځل بیا د دوه وو کلونو لپاره زنداني سو. د صدراعظم شاه محمود غازي سکرتر او د ملکي خدماتو مأمور. د تأریخي ټولنې غړی. د افغانستان د المپیک د کمېټې رئیس او په ایران کې ئې د افغان سپورټي ډلې مشري ئې وکړله. په ۱۹۵۳ز کال کې بې کاره وو. له مارشال شاه ولي سره ئې د هغهٔ کتاب (یادداشت های من) ته د موادو په چمتو کولو کې مرسته وکړه. د حبیبیې د لیسې ښوونکی او د کابل پوهنتون مدرس. د لاسي خطي نسخو راټولوونکی. په ۱۹۷۸ز کال کې ئې خپل دوه ورونه له لاسه ورکړل او له یوهٔ طبي درملیز سفر وروسته په ۱۹۸۰ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو. زوی ئې انجنیر همایون په ۱۹۸۴ز کال کې زنداني سو. د خپل لوی کتابتون او پریمانو خطي نسخو د ټولګې په لرلو شهرت لري. وادهٔ ئې کړی او ځلور واړه بچیان ئې په اروپا کې ژوند کوي.

## محمد شریف پرونتا

(د محمد صالح پرونتا ورور) او د محمد ابراهیم زوی په ۱۹۱۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. معمار یا د ودانولو چارو انجنیر. د کابل هوټل په ډیزاین او جوړولو کې ئې مرسته وکړه او هم ئې په نوي ښار/ شهر نو کې د مېرمنو د ټولنې / انجمن زنان د ودانۍ په ډیزاین او جوړولو کې کار وکړ. په شوقي توګه ئې په هندي کلاسیکي موسیقي کې زده کړه وکړه او خپل درې زامن ئې په کې وروزل. په ۱۹۷۸ز کال کې له خپل ورور محمد اکرم پرونتا سره یو ځل ونیول سو او تر اوسه دواړه ترې تم دي. وادهٔ ئې کړی او شپږ بچیان لري چې اوس په جرمني او د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## محمد وحید پرونتا

د پوهاند محمد صالح زوی په ۱۹۴۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې په لیسې کې ئې زده کړې کړې او په ۱۹۶۴ز کال کې د کابل له پوهنتون څخه فارغ سو. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې ئې د (کاناډا د نړۍ وال پرمختګ د ایجنسی CIDA) [1]تر فیلوشیپ لاندې ئې زده کړې وکړې او له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۶ز کال پورې ئې (د کار د نړۍ وال سازمان ILO) [2] تر فیلوشپ لاندې په برتانیې کې زده کړې وکړې. په ۱۹۶۵ز کال کې د مکلفیت دوره. په

[1] -Canadian International Development Agency
[2] - International Labor Organization


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۹۶۶ز کال کې د ٖصنعتي پرمختگ د بانک[3] کارمند. په ۱۹۷۳ز کال کې د کانونو د وزات کارمند. په ۱۹۷۸ز کال کې بالا مرغاب ته تبدیل سو. اوس له خپلې مېـرمن او دوه وو بچیانو سره په انګلستان کې ژوند کوي.

## مـحـمد صدیق پسرلی

د ٖرمضـان خان[4] زوی د کندز په چهار درې کې[5] زېـږېـدلی دئ. په قوم خروټی دئ. ادبیات ئـې په کور دننه زده کړي دي. په ۱۹۵۳ز کال کې د مطبوعاتو رسمي کارمند. د پـښـتون ږغ غړی. د سندرو مصنف او شاعر.

**نور بیا**

## مـحـمد عثمان پـښـتون

په ۱۸۸۷ز کال کې په کندهار کې زېـږېـدلی دئ. د چمن او...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک

[3] -Industrial Development Bank

[4] - په انګلیسي متن کې ټاپیي تېـروتنه سوې او رمضان خان ورڅخه Marazan Khan لیکل سوی دئ. - ژ

[5] - د امریکا غږ د راډیو د ۱۳۹۲ل کال د مرغومي د ۲۲ ورځې د خپروني پر بنسټ : „د پښتو ژبې غزلبول او د مخکښو شاعرانو یو شاعر او لیکوال محمد صدیق پسرلی د ۸۵ کالو په عمرد هند په پلازمینه ډهلي کې تیره شپه وفات شو. محمد صدیق پسرلی په ۱۳۰۷ هجري لمریز کال کې د غزني په ولایت کې زېږېدلی وو خو وروسته یې بیا کورنۍ کندز ته کډه شوې ده. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په کندز کې کړې دي. د ژوند د ځوانۍ برخه یې د کندز په چهاردره ولسوالۍ کې تېره کړې ده. له کمونستي کودتا وروسته یې افغانستان په ۱۳۵۹ لمریز کال کې پرېښی او کورنۍ سره پاکستان ته کډه شوی دی.‟ له دې کبله د استاد پسرلي د زېـږون د ځای په هکله دلته تېـروتنه سوې ده. همدا شان ویکیپیډیا هم د استاد د زیږون ځای د غزني ولایت ښیي. – ژباړونکی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ